# مطبوعاتي اعلاميه

## پر دوو قايقو يوه پښه نه شو ايښودلی؛ ډيموکراسي پای ته ورسوئ او د اسلامي خلافت د بيا تاسيس لپاره هلې ځلې وکړئ!



**(ژباړه)**

د ۲۰۱۸ م کال د ډيسمبر پر ۱۵مه د پاکستان لومړي وزير پر خپل ټويټرپاڼه څرګنده کړه چې د خلافت غوښتنه په يوه ګرمه موضوع بدله شوې ده. د ډاکټر احمد اسرار په واسطه دغه ويډيويي ټويټ ښيي چې نوموړی د پاکستان له بنسټګر محمد عالی جناح څخه په نقل سره وايي چې په پاکستان کې بايد راشده خلافت تاسيس شي او پر مسلمانانو لازمه ده چې يو ځل بيا خپل قدرت تر لاسه کړي. د پاکستان د خلکو دغو اسلامي احساساتو ته په پام، چې اوس هم د غربي قوانينو تر سيوري لاندې ژوند کوي، د باجوا- عمران رژيم هڅه کوي څو په يو وخت کې په دوو قايقو پښې کېږدي. څکه دغه رژيم خپل ځان له ناسم درک، لودګۍ او منافقانه تورونو سره مخ کړی دی. له دې ناوړه خبر دا ده چې دغه رژيم له اسلام او د اسلام له عقيدې سره د مسلمانانو د مينې په پرتله د الله سبحانه وتعالی له غوسې (قهر) سره مخ شوی دی. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**(وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ)**

[بقره: 42]

*ژباړه: باطل ته د حق جامه مه وراغوندئ او تر پوهېدو وروسته حق مه پټوئ!*

په دې اساس پر مسلمانانو لازمه ده، څو هغه حکام له واکه ګوښه کړي چې غرب ته د خدمت لپاره په خپلو کې سيالي کوي او هڅه کوي چې مسلمانانو ته په څو کلمو سره دوکه ورکړي. نن اسلامي امت په ټوله نړۍ کې د غفلت له خوبه راپاڅېدلی او خپله هغه برخليک ټاکونکي قضيه يې درک کړې چې هغه پر هغه څه حاکميت دی چې الله سبحانه وتعالی رالېږلي دي. له همدغه امله د يو لوی سياسي قدرت په توګه د اسلام د واکمنېدو ځنډ لپاره د مسلمانانو د حکامو وروستۍ هڅه دا ده چې کفري حاکميت د اسلام په جامه کې پټ کړي او له همدې لارې اسلام ته زيان رسوي.

**نو ای مسلمانانو!** راپاڅئ چې کفري ډيموکراسي له منځه يوسو او په پرېکنده درېځ د نبوت پر تګلاره د خلافت بيا راتګ لپاره هڅې وکړو. راځئ د هغې واکمنۍ لپاره هڅې وکړو چې د اساسي قانون هر څپرکی يې له قران او سنتو اخيستل شوی. راځئ د هغه حاکميت لپاره لاس پکار شو چې اسلامي خاورې سره يوځای کړي؛ نه دا چې د بېلتون، دولت ـ ملت کرښو او

نورو ناوړه مفکورو اقدام وکړو. راشئ چې د هغې واکمنۍ لپاره کار وکړو چې نظامي برید ته د نظامي ځواکونو په ارادې ځواب ورکوي، نه دا چې دغه مسله د خبرو اترو مېزونو، قلم، کاغذ او خبرو له لارې حل کړي. راځئ د هغه حاکمیت لپاره هڅه وکړو چې د مسلمانانو اقتصادي سرچینې د خلکو د اسانتیا او تیکاو لپاره کاروي؛ نه دا چې دغه اقتصادي سرچینې ظالمو ښېکلاګرو ته د ګټې اخیستنې لپاره په واک کې ورکوي. احمد له حذیفه بن الیمان رضي الله عنه څخه په نقل سره روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«تَكُونُ النُّبُوَّةُ فِيكُمْ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا عَاضًّا فَيَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ»**

***ژباړه:*** *تر هغه چې الله سبحانه وتعالی وغواړي، په تاسو کې به نبووت او پیغمبر وي او که الله سبحانه وتعالی وغواړي له منځه یې وړي او وروسته به د نبووت پر تګلاره خلافت واکمن وي. تر هغه چې الله سبحانه وتعالی غوښتي وي، دوام کوي. تر دې وورسته چې کله الله سبحانه وتعالی هغه له مخې لېرې کړي، پر تاسو به ظالمې واکمنۍ او پادشاهۍ حاکمې وي او تر هغه دوام کوي چې الله سبحانه وتعالی غوښتي وي. تر دې وروسته کله چې الله سبحانه وتعالی وغواړي، هغه له منځه وړي او وروسته به د نبوت پر تګلاره خلافت تاسیس شي. تر دغو خبرو وروسته چوپ شو.*

**د حزب التحریر ـ ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**
**د صدور ګڼه: ۱۸/۱۴۴۰**
**۱۴۴۰ د ربیع الثاني ۱۰مه**
**۲۰۱۸ م د دیسمبر ۱۷مه**